2 017550 139621

# مسیر

ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱۸مه | ۴۸۲مه ګڼه


## عایشه خُرم: د افغانانو پر ضد روانه جګړه، د یوې نړیوالې خونړۍ لوبې برخه ده




۳

### امریکایي ځواکونه وځي، موږ باید خپله سره جوړ شو

۲ مخ

### د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

۲ مخ

### افغانستان د اداري فساد په ګرنګ کې

۳ مخ

## کابلوف: روسیه د افغان سولې د هوکړې ضمانت ته چمتو ده

روسي چارواکو ویلي چې له دوی غوښتل شوي چې د افغان سولې د احتمالي هوکړې د لاسلیک ضمانت وکړي.

د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي، طالبانو ترې غوښتي چې د سولې د هوکړې د لاسلیک پر مهال د روسیې استازی حاضر وي او د دې هوکړې ضمانت وکړي. د ده په خبره، د طالبانو یو شرط دا دی چې روسیه، چین، پاکستان او ایران به د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې ضمانت کوي. نوموړي هیله څرګنده کړې چې د افغان سولې روانې خبرې ډېرې ژر مثبتې پایلې ولري. د ده په وینا، دوی په دې پروسه کې هر ډول همکارۍ ته تیار دي؛ ځکه د افغانستان سوله نه یوازې مسکو، بلکې ټولې سیمې ته مهمه ده.

بل لور ته طالبانو ته نږدې سرچینو ویلي چې په راتلونکې اونۍ کې به د امریکا او طالب استازو تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شي.

پخواني طالب چارواکي سیداکبر اغا ویلي: «مذاکرات چې پیل شي او د هوکړه لیک په اړه چې لاسلیک شي؛ ډېره شونې ده چې دا کار به په راتلونکې اونۍ کې وشي».

د یادونې ده چې په قطر کې د امریکا او طالب استازو تر منځ خبرې له څو ورځو راهیسې د دواړو خواوو له مشرانو سره د سلامشورو لپاره درول شوې، خو سرچینې وایي چې دغه خبرې به ښایي تر راتلونکو دوو ورځو پورې بیا پیل شي.

## ښایي له طالبانو سره تر هوکړې مخکې هم د سرتېرو شمېر راکم کړو



۵ مخ

## کتاب

۴ مخ

### طالبان په جاپان کې؛ موږ په وارسا کې



په دغسې جګړه ییز حالت کې د سولې خبرو یادونه طالبانو ته پرته له شکه چې په ځان باندې خطر منل وو او بیا داسې چې په کوم بهرني هېواد کې به د طالبانو استازي د سولې اړوند خبرو په غونډه کې ګډون کوي.

## د کرنې ریاست: په نورستان کې پر ۲۰۵۰ بزګرو د غنمو اصلاح شوي تخمونه وېشل شوي دي



د نورستان د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکو ویلي، چې د دغه ولایت د وانټ وایګل ولسوالۍ پر ۲۰۵۰ بزګرانو د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې وېشل شوي دي.

دوی ویلي چې د دغو مرستو موخه د بزګرانو ملاتړ او په دغه ولایت کې د غنمو د حاصلاتو لوړوالی دی.

چارواکو دغه راز ویلي، دغه مرستې چې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې اداري «FAO» په همکارۍ چمتو شوې وې چې پر دغو ۲۰۵۰ بزګرانو پر هر یوه بزګر د غنمو ۵۰ کیلوګرامه اصلاح شوي تخمونه، ۵۰ کیلو ګرامه توره سره (DAP) او ۵۰ کیلو ګرامه سپینه سره (یوریا) وېشل شوي دي. د چارواکو په خبره، د غنمو یاد اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې په وړیا توګه پر دغو بزګرانو وېشل شوي دي.

په ورته وخت کې له دغو مرستو څخه برخمنو کروند ګرو د مرستې له ترلاسه کولو خوښي ښودلې او ډاډ یې ورکړی چې په خپلو ځمکو کې به یې وکري.

## مشرانو جرگه: فرار نظام الدین قیصاری را از محاصرۀ نیروهای امنیتی سوال برانگیز است



برخی اعضای مشرانوجرگه فرار نظام الدین قیصاری را از محاصرۀ نیروهای امنیتی سوال برانگیز می دانند و بر راه اندزی شیوۀ عملیات بر خانۀ او نیز انتقاد می کنند.

نظام الدین قیصاری نمایندۀ پیشین جنرال عبدالرشید دوستم معاون اول ریاست جمهوری در امور نیروهای خیزش مردمی در ولایت فاریاب، در یازدهم سرطان ۱۳۹۷ از سوی قطعه کماندو در فاریاب بازداشت و در ششم جدی همین سال آزاد شد.

به اساس یک گزارش، نظام الدین قیصاری، حدود ۲۰ دوسیه جرمی شامل زورگویی، قتل، اخاذی، فعالیت های مسلحانه علیه نیروهای امنیتی، تهدید، درگیری های تنظیمی، فعالیت های غیرقانونی اقتصادی، توطیه سازی و ادعای کاذب و غیره دارد. یکشنبه شب هفته جاری، نیروهای امنیتی عملیات بازداشت قیصاری را آغاز کردند و مقام های امنیتی در ولایت بلخ، بعد از پایان عملیات ۱۸ ساعته اعلام کردند که نظام الدین قیصاری در پی درگیری با نیروهای امنیتی، از منزلش فرار کرده است و تا بازداشت وی عملیات ادامه خواهد داشت.

به اساس گزارش ها در عملیات یادشده، هفت تن از محافظین نظام الدین قیصاری کشته، یک تن آنها زخمی و ۳۵ تن دیگر بازداشت شده اند.

در نشست دیروز مشرانوجرگه، روی چگونگی فرار قیصاری و شیوۀ راه اندازی عملیات بحث شد. محی الدین منصف نماینده مردم کاپیسا در این جرگه گفت: «سوال این است که چرا قیصاری از بند رها شد؟ سلاح را از کجا کرد و چگونه با وجودی که خانه اش تحت محاصره قرار داشت، فرار کرد».




Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life

دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### امریکایي ځواکونه وځي، موږ باید خپله سره جوړ شو

د امریکا دفاع وزیر تایید کړې چې له طالبانو سره د سولې له توافق وړاندې به په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر را کموي. تر دې وړاندې امریکایي سناتور لینډسي ګراهام هم ویلي وو چې ټرمپ به په همدې اونۍ کې اعلان وکړي چې له افغانستانه څلور زره سرتېري وباسي. ویل کېږي چې دا لړۍ به ژر پیل شي او امریکا به نور ځواکونه هم له افغانستان څخه وباسي.

امریکا دغه ګام په داسې حال کې اخلي چې له یوه اړخه له طالبانو سره د سولې پر هوکړه کار کوي او له بله اړخه د واشنګټن پوسټ اسنادو امریکایي چارواکي تر ولسي فشار لاندې راوستي دي. که امریکا له طالبانو سره سیاسي جوړجاړي ته رسېږي، نو اټکل دی چې ټول امریکایي ځواکونه به افغانستان پرېږدي. امریکا له طالبانو سره په خبرو کې ډېره هڅه وکړه چې پر هغوی خپل پوځي حضور ومني. امریکا لومړی د پوځي اډو یا اډې او بیا ان په سفارت کې د خپلو ځواکونو د پاتې کېدو هڅې وکړې او طالبانو ته یې په بدل کې د امتیازاتو د ورکړې خبرې هم وکړې، خو تر پایه پورې بریالي نه شول چې طالبان د دې غوښتنې منلو ته قانع کړي.

اوس چې بیا له طالبانو سره خبرې کېږي، امریکا به بیا هم هڅه وکړي چې طالبان د دوی پوځي حضور منلو ته قانع کړي، خو داسې نه ښکاري چې طالبان به دا غوښتنه ومني. له همدې امله امریکا اړ کېږي چې خپل ځواکونه له وړاندې کم کړي، تر څو د ټولو ایستلو ته لاره هواره کړي.

له بله اړخه د واشنګټن پوسټ له خوا د افغان جګړې په تړاو د اسنادو له افشا کېدو وروسته اوس امریکایي ولس لا زیات د افغان جګړې خلاف دی او غواړي چې دا جګړه ختمه شي. له دې امله چې په امریکا کې راتلونکی کال بیا د ولسمشرۍ ټاکنې دي، سیاستوال اړ دي چې د خلکو د قانع کولو لپاره یو ګام واخلي. له همدې امله دوی باید له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي او یا یې هم کم کړي. ټرمپ چې په راتلونکو ټاکنو کې به له سختې سیالۍ سره مخ وي، غواړي د افغانستان په تړاو په متفاوتو ګامونو سره د خلکو رضایت خپل کړي.

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل یو ښه ګام دی. هر افغان باید د دغه ګام ملاتړ وکړي. د امریکایي ځواکونو حضور په افغانستان کې د جګړې، وحشت، جنایت او ستونزو سبب دی. له همدې امله د جګړې، وحشت او جنایت له دې امله باید افغانستان پاک شي. افغانان باید د امریکایي ځواکونو له وتلو سره مرسته وکړي او تر څنګ یې باید د خپلمنځي تفاهم او جوړجاړي لپاره کار او هلې ځلې وکړي. له بده مرغه په حکومت کې ځینې کسان لا هم غواړي چې دلته امریکایي ځواکونه او جګړه وي. دا فکر افغاني فکر نه دی او باید منزوي شي، خو ورسره د دغه فکر پیاوړتیا پکار ده چې موږ باید په خپلو کې سره جوړ شو. د امریکا، ناټو، پاکستان او نورو بهرنیانو په دوستۍ او مینه کې له خپل ورور سره دوښمني او جګړه باید ختمه شي او موږ باید د همدې لپاره یو بل ته لاسونه ورکړو.

# د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

لیکنه: اکرام الدین کامل

پنځمه برخه:

**ملي چلند (National Treatment)**

د ګاټ دریېمه ماده د ملي چلند د وجیبې په اړه ده. د دې مادې له مخې، هېوادونه مکلف دي چې په داخلي مارکېټ کې د داخلي او وارداتي توکو (کله چې وارداتي توکي تعرفه ورکړي او بازار ته داخل شي) ترمنځ تبعیض ونه کړي. د بېلګې په توګه، کله چې د «الف» یا «ب» هېواد وارداتي توکي د «ج» هېواد بازار ته داخل شي، په دې صورت کې «ج» هېواد باید د وارداتي توکو او د خپلو داخلي شبېهو توکو ترمنځ تبعیض ونه کړي او له وارداتي توکو سره باید تر داخلي توکو کم ګټور چلند ونه کړي. د درېیمې مادې موخه دا ده چې داخلي تدابیر (مثلاً داخلي مالیې، قوانین، مقررې او شرایط چې پر خرڅلاو، اخیستنې، توزیع، استعمال او پر داسې نورو اغېز وغورځوي) باید د دې موجب نه شي چې د وارداتي توکو په مقابل کې د داخلي توکو ملاتړ وشي. د Japan-Alcoholic Beverages II په قضیه کې استیناف رکن پر دې ټینګار وکړ چې د دریېمې مادې موخه دا ده څو د protectionism مخه ونیول شي او د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره د ګاټ دریېمې مادې د سازمان غړي پر دې مکلف کړل چې وارداتي او داخلي توکو ته مساوي رقابتي شرایط برابر کړي.

د National Treatment اصل د تطبیق پر مهال د نورو پوښتنو سربېره باید درې پوښتنې هم ځواب کړي. لومړی دا چې وارداتي او داخلي توکي «شبیهه توکي»، یا مستقیم رقابتي او که د یو بل ځای نیوونکي دي؟ که شبیهه توکي یا مستقیم رقابتي توکي نه وي، د بېلګې په توګه واردات خټکي وي او داخلي توکي بیا موټر، په دې صورت کې د National Treatment اصل نه تطبیقېږي، ځکه خټکي او موټر شبیهه توکي نه دي. البته که دواړه خټکي وو، نو په دې صورت کې بیا یاد اصل تطبیقېدای شو. دویم دا چې آیا په وارداتي توکو تر داخلي شبیهو توکو زیاته داخلي مالیه وضع شوې او کنه؟ او آیا دغه داخلي مالیه د دې لپاره وضع شوې څو داخلي تولیدات د وارداتي تولیداتو په مقابل کې خوندي کړي او یا یې ملاتړ وکړي؟ که یې ځواب هو وي، نو تبعیض ګڼل کېږي او که تر ټولو ورته توکو څخه یو ډول مالیه اخیستل کېږي، نو بیا تبعیض نه ګڼل کېږي. د بېلګې په توګه، هند پر داخلي زعفرانو ۱۰ سلنه sales tax وضع کړی، خو پر هغو زعفرانو چې له افغانستانه وارد شوي وي، ۲۰ سلنه sales tax وضع کړی. پر افغاني زعفرانو اضافي تعرفې وضع کول، چې د هندي زعفرانو شبیهه توکی دي، تبعض دی او د ګاټ د دریېمې مادې نقض دی.

اوس پوښتنه دا ده چې شبیهه توکي یا like products څه شی دي؟ کوم توکي د نورو توکو شبیهه ګڼل کېږي؟ د «شبیهه توکي» اصطلاح د سازمان په هېڅ هوکړه لیک کې نه ده تعریف شوې، خو د سازمان د شخړو حل و فصل رکن یاده اصطلاح په ډېرو راپورونو کې تحلیل کړې ده. د Japan – Alcoholic Beverages په قضیه کې پېنل (د ابتدایي محکمې مترادفه ده) د یادې اصطلاح مانا د ګاټ د ۳مې مادې د متن او کانټکسټ سره سم په ډېر تفصیل سره تحلیل کړې. په دې قضیه کې پوښتنه دا وه چې Shochu او Vodka (دواړه الکولي مشروبات دي)، د ګاټ د دریېمې مادې له دویمې فقرې سره سم شبیهه توکي دي؟ د سازمان هیئت یا پېنل د like product لپاره درې معیارونه وضع کړل: لومړی؛ د توکو فزیکي خاصیت باید یو شی وي. دویم؛ د استعمال موخه یې یوشان وي، دریېم؛ د تعرفو په لېست (Harmonized System) کې تر یوې کټګورۍ یا عنوان لاندې راشي. ځینې حقوقپوهان څلورم معیار هم ور زیاتوي، هغه د استهلاک کوونکي ځکه او عادت دی. که دغه څلور معیارونه په دوو توکو کې یو ډول وي، نو شبیهه توکي ګڼل کېږي.

لکه مخکې مو چې د MFN په بحث کې یادونه وکړه چې د ګاټ معاهده نه یوازې دا چې de Jure یا په قانون کې تبعیض منع کوي، بلکې de facto یا هغه تبعیض چې په قانون کې نه وي، خو په واقعیت کې تبعیض وي، هم منع کوي. د National Treatment اصل هم همدا راز دغه دوه ډوله تبعیض منع کوي. De Jure تبعیض هغه دی کله چې یو قانون یا پالیسي په داسې بڼه تصویب شي چې متن یې په وضاحت سره د داخلي او وارداتي توکو ترمنځ تبعیض کوي. د مثال په توګه، افغانستان یو نوی قانون تصویب کړی چې له مخې یې ځینې داخلي تولیدات لکه هغه بوټان چې د غوا له څرمنې جوړوي لهsales tax څخه معاف کړي، خو پر وارداتي شبیهو توکو (د څرمنو بوټان) بیا ۲۰ سلنه تعرفه وضع کړي. همدا راز د ګاټ د دریېمې مادې له مخې، د یو قانون یا مقررې له متن څخه په ښکاره داسې څه نه ښکاري چې تبعیض دې کوي، خو په واقعیت کې دغه قانون د وراداتي توکو په مقابل کې داخلي توکو ته ګټه/ فایده ورکوي. د مثال په توګه، افغانستان یو نیم ټنه ایرکنډېشنونه له sales tax څخه معاف کړي. دغه ایرکنډېشنونه عموماً د افغانستان د داخلي شرکتونو له خوا تولیدېږي، خو په مقابل کې له ۲ تر ۵ ټنو ایرکنډېشنونو باندې باید ۲۰ سلنه تعرفه وضع کړي چې له بهر څخه افغانستان ته واردېږي. اوس که څه هم د قانون یا مقررې له متن څخه څرګنده دا نه ښکاري چې افغانستان دې تبعیض کړی وي او د وارداتي توکو مقابل کې دې له داخلي توکو سره مرسته کړې وي، خو په عمل کې بیا دا تبعیض دی او د ګاټ د دریېمې مادې له مخې منع دی.

**د (National Treatment) اصل استثناءات**

پورته مو د MFN استثناءات ذکر کړل چې هغه ټول د National Treatment استثناءات هم دي. البته د National Treatment اصل بیا ځینې نور ځانګړي استثناءات هم لري چې د دریېمې مادې د ۸ مې فقرې لومړنی بند (دولتي تداراکات)، دویم بند (سبسایډي)، ۹ فقره (داخلي تر ټولو لوړ نرخ د کنترول تدابیر) او د دریېمې مادې ۱۰مه فقره او په څلورمه ماده (سینمایي فلمونه) کې ذکر شوي دي. د مثال په توګه، افغانستان کولای شي چې په دولتي تدارکاتو کې د داخلي تولیداتو پر اخیستو ټینګار وکړي، یا په ځینو ځانګړو حالاتو کې چې د سازمان هوکړه لیکونو ورته اجازه ورکړې وي، داخلي تولیداتو ته اعانه یا سبسایډي ورکړي. دا که څه هم داخلي تولیداتو ته ګټه ورکول دي؛ خو د دریېمې مادې له مخې دا ډول ګټه ورکول د National Treatment د اصل څخه استثناء دي.

**افغانستان او له تعبیض څخه د لېرې توب اصل**

له تبعیض څخه د لېرې توب اصل د سازمان یو له مهمو اصولو څخه دی. هېوادونه تر هر څه وړاندې د عدم تبعیض په اړه ژمنه کوي. د افغانستان په کاري راپور کې هم د وارداتو او خدماتو سره پر عدم تبعیض ټینګار شوی دی. د مثال په توګه، د پانګونې د رژیم تر عنوان لاندې په ۲۰م پاراګراف کې افغان استازي ویلي چې د افغانستان د ۲۰۰۵ ز کال د خصوصي پانګونې قانون بهرنیو پانګوالو سره پر ملي چلند ټینګار کړی دی. همدا راز د سوداګرۍ پر وړاندې د تخنیکي خنډونو اړوند قوانینو کې افغانستان د سازمان څخه د ۲۰۱۷ ز کال د ډسمبر تر ۳۱مې انتقالي وخت غوښت او ژمنه یې وکړه چې تخنیکي مقررې، سټنډرډ او نور پروسیجرونه به پرته له کوم تبعیضه یو ډول تطبیقېږي او له ټولو وارداتو سره به د تر ټولو مطلوب چلند MFN او ملي چلند National Treatment کېږي. د حیواناتو او نباتاتو د روغتیا په اړه د تدابیرو هوکړه لیک اړوند افغانستان ژمنه وکړه چې په هغو مواردو کې چې انتقالي موده ورته نه ده ټاکل شوې، د MFN او National Treatment اصول پر ټولو وارداتو عملي کېږي. د ټرانزیټ په برخه کې هم افغانستان ژمنه وکړه چې د ټرانزیټي معاهداتو باوجود چې افغانستان یې د نورو هېوادونو سره لري، افغانستان به د ګاټ د پنځمې مادې او د MFN اصل پر اساس ټولو هېوادونو ته د ټرانزیټ شرایط برابر کړي. همدا راز د معنوي ملکیت د قوانینو په برخه کې افغانستان جدي تغیرات راوستل او په ټولو قوانینو کې یې ملي چلند او تر ټولو مطلوب چلند د اصولو د عملي کولو ژمنه وکړ.

**د سوداګرۍ پر وړاندې د خنډونو کمول**

د ګاټ د معاهدې د لاسلیک یو مهم لامل پر وارداتو د تعرفو کمول او د سوداګرۍ پر وړاندې د خنډونو کمول وو. د سازمان یو مهم اصل هم د سوداګرۍ پر وړاندې د خنډونو کمول او ختمول دي. د سازمان هر غړی د مذاکراتو پر مهال د تعرفو اړوند ژمنې کوي چې له مخې یې غړی هېواد پر توکو او خدماتو تر ژمنو شویو تعرفو زیاتې تعرفې نه شي وضع کولای. د هر توکي اړوند تعرفې د هر هېواد په Schedule of Concession کې ذکر شوي وي. په دې لېست کې هر هېواد هر توکي ته چې یو ځانګړی نمبر هم لري، تعرفه وضع کړې وي. هر هېواد خپل لېست لري او دا لېستونه هېواد تر هېواده توپیر لري. د بېلګې په توګه د افغانستان د schedule of concession لېست تر پاکستانه متفاوت دی، افغانستان پر ټولو تجارتي محصولاتو په اوسط ډول ۳۳.۶ سلنه تعرفه لري چې په دې کې په ځینو توکو تعرفه ۱۰۰ سلنه ده او پر ځینو نورو توکو ۵ سلنه ده، خو برعکس بیا پاکستان په اوسط ډول د ټولو زراعتي وارداتو ۱۰۲ سلنه تعرفه لري چې په دې کې پر ځینو توکو ۲۰۰ سلنه تعرفه هم شته دی.

د ګاټ دویمه ماده د تعرفو په اړه صراحت کوي. د یادې مادې له مخې، ټول غړي هېوادونه پر دې مکلف دي چې د تعرفو د لېست سره سم ټولو غړو هېوادونو سره یو ډول چلند وکړي او تر هغې زیاتې تعرفې وضع نه کړي چې د تعرفو په لېست کې یې ژمنه کړې ده. افغانستان خپل د تعرفو په لېست کې د مثال په توګه د حلال شوي حیوان پر غوښه تر ټولو لوړه ۶۰ سلنه تعرفه وضع کړې ده. افغانستان اوس دوه وجیبې لري: لومړی دا چې پر یاده غوښه تر ۶۰ سلنه زیاته تعرفه نه شي وضع کولای، او دویمه دا چې له ټولو غړو هېوادونو څخه د ورته غوښې پر وارداتو باید یو ډول تعرفه وضع کړي یعنې که تر ۶۰ سلنه کمه تعرفه وضع کوي، نو د ټولو هېوادونو لپاره به یې یو ډول کموي.

لاندې د افغانستان د تعرفو د لېست Schedule of Concession یوه برخه ده:

**Schedule CLXX- Afghanistan**

**PART 1 – MOST-FAVOURD-NATION TARIFF**

**SECTION 1- Agricultural Products**

د دویمې مادې لومړنۍ فقره «ب» بند له غړو هېوادونو غواړي چې عام ګمرکي مالیات هم باید د تعرفو په لېست کې تر یادوو شوو تعرفو څخه زیات نه شي. یعنې که عملي تعرفې کمې وي، خو نور اضافي ګمرکي مالیات هم یو هېواد اخلي، دا مالیات باید تر هغه زیات نه شي، څومره چې د تعرفو په لېست کې ذکر شوي دي. د دې مادې موخه دا ده چې هېوادونه له دې منع کړي څو د عامو ګمرکي مالیاتو تر نوم لاندې خپلې تعرفې تر هغې لوړې کړي چې د تعرفو په لېست کې یې پرې ژمنه کړې ده.

**د تعرفو اړوند د افغانستان ژمنې**

افغانستان هم د سوداګرۍ پر وړاندې خنډونه تر ډېره کم کړي دي. افغانستان په ټولو توکو تعرفې په اوسط ډول ۱۳.۵ سلنې ته ښکته کړې دي. په زراعتي توکو یې تعرفې ۳۳.۶ سلنه دي. افغانستان د WTO Plus وجایبو په لړ کې د tariff rate quota او special safeguards اسانتیاوې هم نه دي ورکړې. پر دې سربېره د کرنې هوکړه لیک په هغه صورت کې صادراتي سبسایډي یا اعانه ته اجازه ورکوي چې د اساس کلونو based period کې یاد هېواد زراعتي توکو ته صادراتي تعرفې ورکړې وي. د افغانستان لپاره د اساس کلونه ۲۰۰۹-۲۰۱۱ ز پورې وو او په دغه موده کې افغانستان زراعتي توکو ته صادراتي سبسایډي نه وه ورکړې، له همدې کبله افغانستان د کرنې د موافقې له مخې، د دې حق نه لري چې زراعتي توکو ته صادراتي سبسایډي ورکړي. البته افغانستان د یوه لږ پرمختللي هېواد په توګه د کرنې د موافقې د نهمې مادې لومړنۍ فقرې له مخې بازار موندنې او داخلي ترانسپورت لپاره سبسایډي ورکولای شي. په غیر زراعتي توکو یې اوسط تعرفې ۱۰.۳ سلنه دي. د ۳۰۰ توکو اړوند یې هېڅ ډول ژمنه نه ده کړې او د ۶۵ ډوله توکو پر وارداتو یې بندیز لګولی دی. همدا راز یوازې پر ۲۴۳ اقلامو یې صادراتي تعرفه وضع کړې ده. افغانستان همدا راز د معلوماتي ټکنالوژۍ موافقې سره د الحاق ژمنه وکړه. د یادې موافقې له مخې افغانستان باید د معلوماتي ټکنالوژۍ اړوند پر ټولو توکو تعرفې صفر ته ښکته کړي. افغانستان همدا راز یوازې پر ۲۴۳ اقلامو صادراتي تعرفې وضع کړې دي چې له دې جملې په ۲۹.۶ سلنه اقلامو یوازې ۱۰ سلنه او پر ۲۴.۲ سلنو باندې ۲.۵ سلنه تعرفې وي. افغانستان همدا راز تعهد وکړ چې له الحاق وروسته به د ۱۵ کلونو دننه د سرې میاشتې ۰،۲ سلنه مالیه هم ختمه کړي او د تعرفو د معافیت اړوند اصول به د سازمان له اصولو سره سم تطبیق کړي.

د خدماتو په برخه کې افغانستان په ۱۱ سکټورونو او په ۱۰۴ عضوي سکټورونو کې بېلابېلې ژمنې وکړې. د بېلګې په توګه، یوه ژمنه دا وه چې بهرنیو اتباعو یا حقوقي اشخاصو ته به د دې حق ورکول کېږي چې په افغانستان کې له دولت څخه تر ۹۰ کلونو پورې ځمکه په اجاره واخلي او دا اجاره نوره هم تمدید کړي.

**دوام لري...**

# افغانستان د اداري فساد په ګړنګ کې

لیکنه: فیض محمد ځدراڼ

لومړۍ برخه:

د ۲۰۰۳ ز کال په اکتوبر کې د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د اداري فساد پر وړاندې د کنوانسیون له تصویب وروسته د ډسمبر میاشتې نهمه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ورځې په نوم ونومووله چې هر کال دغه ورځ د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې نمانځل کېږي. په تېره اونۍ کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ورځ په افغانستان کې هم ونمانځل شوه. د دې ورځې په مناسبت مې وغوښتل د اداري فساد پر لاملونو او د افغانستان د ښکېلتیا په اړه د اداري فساد پر قضایاوو کې خپل نظریات له درنو لوستونکو سره شریک کړم.

که څه هم د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د فساد مختلفو بڼو ته په کتو ترې ارزونه کېږي، خو د قاطع مبارزې لپار په کار ده چې په هره کچه فساد باید له قانوني چلند سره مخ شي. له دې کبله به ښه دا وي چې لومړی د فساد لپاره یو عمومي تعریف ولرو. هره هغه کړنه چې په سازمانونو او اداراو کې له قانوني پړاوونو پرته د یو یا څو لوریو ترمنځ د شخصي ګټو لپاره ترسره کېږي او له امله یې د قانون خلاف کړنو ته لاره برابروي، اداري فساد ګڼل کېږي او یا په بل مفهوم، فساد هغه څه ته وایي چې پکې د وګړو ټولنیز، سیاسي او اقتصادي حقوق تر پښو لاندې کېږي.

پورتني تعریف ته په کتو اداري فساد په یوه برخه کې نه شو خلاصه کولی. لکه څرنګه چې دا پدیده په سازمانونو او اداراو کې د ۲۱مې پېړۍ له مشهورو پدیدو څخه ګڼل کېږي، همدارنګه مختلفې بڼې لري چې نظر په شرایطو او قوانینو په ټولنو کې مختلف چلند یې پر وړاندې کېږي.

په پرمختللو هېوادونو کې لکه ځینې اروپایي هېوادونه، متحده ایالتونه، کاناډا او یو شمېر اسیایي هېوادونه لکه جاپان، سنګاپور او هانګ کانګ د اداري فساد کچه ډېره ټیټه ده. لامل یې دا دی چې په دغو هېوادونو کې دولتونو د قانوني پړاوونو لپاره ځانګړې پالیسۍ او سیستمونه جوړ کړي چې له مخې یې په مختلفو سطحو کې اداري چارې سیستم محوره دي او شخص نه شي کولای د سیستم له اجازې پرته قانوني مراحل مختکې یوسي.

د فساد له پلوه په دویمه درجه هېوادونو کې لکه هند، کوسوو، برازیل، اندونیزیا، تایلنډ او نورو هېوادونو کې بیا قانوني پړاوونه په سازمانونو او ادارو کې نیمه سیستم محوره دي چې له امله یې اشخاص کولای شي د سیستم په مرسته قانوني پړاوونه په ځینو مواردو کې په خپله ګټه وکاروي.

په وروسته پاتې هېوادونو کې لکه سومالیا، سوریه، افغانستان، سوډان او نورو کې بیا اصلاً قانوني پړاوونه د سیستم له لارې نه پلي کېږي او یا هم سیستم په نمونوي شکل جوړ شوی وي چې اشخاص په ټولیز ډول سیستم ته لاسرسی لري او حتی امکان لري چې د قانوني پړاوونو کنټرول د اشخاصو په لاس کې وي. له دې سره سم د هرې چارې لپاره مختلفې لارې چارې موجودې وي چې اشخاص یې په خپله خوښه ټاکلی شي.

په دې برخه کې غواړم په افغانستان کې د اداري فساد پر عواملو او اړخونو باندې کتنه وکړم او حل لارې یې وړاندې کړم.

د موقتي ادارې له تشکیل څخه را په دېخوا اداري فساد هغه څه ده چې د افغانستان حکومتولي او نړیوالې مرستې یې ننګولې او هر کال کله چې د روڼتیا نړیوال سازمان کلنی لېست خپروي، نو د افغانستان نوم یې په اداري فساد کې د ککړو هېوادونو په سر کې وي. له همدې کبله نړیوال ملاتړي او مرسته کوونکي تل د خپلو مرستو له ضایع کېدو اندېښنه لري. د موضوع د لا وضاحت لپاره کولای شو لاندې مواردو ته اشاره وکړو:

**۱- کمزوری ملي حاکمیت**

ملي حاکمیت له قانونمندۍ او فساد سره د مبارزې معتبره نسخه ګڼل کېږي، خو په تېرو اتلس کلونو کې افغانستان د ملي حاکمیت له پلوه په ډېر بد وضعیت کې و او لامل یې هم د موازي قدرتونو شتون، حزبي او تنظیمي اړیکې، جګړه، د محلي زورواکو شتون، د مخدره توکو مافیا او د حکومت کمزورتیا بلل کېږي چې پورتنیو فکتورونو پر ملي حاکمیت شدیده اغېزه کړې ده. له همدې کبله فساد په پراخه کچه په اداراو کې پر یو عادي امر بدل شوی.

**۲- د میکانېزمونو نه شتون**

له فساد سره د مبارزې لپاره د میکانېزمونو جوړول یو عمده اصل ګڼل کېږي. که په اداراو کې چارې د مشخصو میکانېزمونو له لارې پر مخ یوړل شي، نو د فساد لپاه به زاویه ډېره تنګه کړي؛ په دې مانا چې که د اداري فساد د مخنیوي لپاره اداري پروسې لنډې شي او هره پروسه د سیستم له مخې پرمخ یوړل شي، نو اشخاص به د سیستم تابع وي او موجودیت به یې یوازې د سیستم د پر مخ وړلو په موخه وي. د بېلګې په توګه کولای شو په افغانستان کې د پاسپورټ د صدور پروسې او د بانکدارۍ سیستمونو ته اشاره وکړو.

**۳- په ادارو کې د قانوني پړاوونو کلاسیکه بڼه**

د افغانستان په اداراو کې قانوني پړاوونه په کلاسیکه بڼه پاتې شوي چې په هره مرحله کې د سیستم پر ځای اشخاص د پرېکړې صلاحیت لري. سربېره پر دې کاري پروسې دومره اوږدې دي چې که یو څوک وغواړي د خپل ملکیت لپاره قانوني اسناد جوړ کړي، نو لازمه ده چې د دې پروسې لپاره تر لسو ډولونو اسناد ترتیب کړي او له ۱۰ نه تر ۱۵ پورې لاسلیکونو ته ضرورت لري. دلته د هر لاسلیک لپاره باید بېل ورکړل شي او د هر سند ترتیبولو لپاره هم باید پیسې مصرف کړي او هم باید په میاشتو منتظر پاتې شي.

د سیستم او د مشخصو ستراتېژیو نه شتون د دې لامل شوی چې په اداراو کې چارې په کلاسیکه توګه پر مخ ولاړې شي او تر ډېره د چارواکو لاس لرل د کلاسیکې بڼې په ساتلو کې تر سترګو کېږي؛ ځکه د سیستم په نه شتون کې د دوی ګټې خوندي دي؛ د بېلګې په توګه که یو څوک وغواړي په خپله ځمکه یوه لوړپوړیزه ودانۍ جوړه کړي، د ښاروالۍ مربوطه ناحیې ته مراجعه کوي او د ودانۍ امر د بڼې د ورکړې په بدل کې اخلي او خپلې ودانیزې چارې په خپله خوښه پیلوي، حال دا چې که سیستم موجود وي، لومړی د غوښتونکي ملکیت چې پخوا په سیستم کې ثبت شوي، د اطمینان لپاره کتل کېږي، وروسته ترې د ودانۍ پلان غوښتل کېږي او پلان باید د تعیین شوو معیارونو مطابق وي چې مخکې له مخکې د ښاروالۍ له خوا د هرې سیمې لپاره مشخص پلان د متخصصینو له خوا ترتیب شوی وي. پلان تر هغې پورې نه تاییدېږي، څو چې پر معیارونو برابر نه شي، وروسته له دې چې په معیارونو برابر شو، په بله مرحله کې د ودانۍ ډیزاین غوښتل کېږي چې ایا نوموړې ودانۍ د ودانیزو مقرراتو او انجینري له معیارونه سره برابره ده کنه. وروسته له دې چې د انجنیرۍ پر معیارونو برابره شوه، د چارو د پیل اجازه ورکول کېږي او د ودانیزو چارو پر وخت یې کنټرولوي، څو له مقرراتو نه سرغړونه ونه شي او دا چارې د مختلفو ټیمونو په واسطه صورت مومي.

په متحده ایالتونو کې که څوک وغواړي د خپل کور په یوه برخه کې یوه نوې کوټه جوړه کړي، نو باید د ښاروالۍ له مربوطه ادارې څخه تصدیق واخلي، حال دا چې په افغانستان کې یو کس (ټیکه دار) چې کافي سواد هم نه لري، لس پوړیزه ودانۍ پرته له تخنیکي ډیزاینه جوړوي.

**۴- د تخنیکي ستراتېژیو نه شتون**

له بده مرغه په تېرو ۱۸ کلونو کې داسې یوه ستراتېژي جوړه نه شوه چې له مخې یې حکومت وکولای شي اداري فساد یو څه را کم کړي، د نه شتون مفکوره یې اوس هم یو خیال ګڼل کېږي.

د اداري سیستمونو د پرمختګ لپاره د متخصصینو له لوري لنډمهالې، منځ مهالې او اوږدمهالې ستراتېژۍ تدوینېږي چې له مخې یې په اداراو کې د ضرورت مطابق سیستمونه جوړېږي او د تطبیق لپاره وړاندې کېږي. دغه سیستمونه د قانوني پړاوونو د یو شان کېدو په خاطر ډیزاین کېږي، څو د اداراو کارکوونکي او د خدماتو غوښتونکي یوازې د پروسیجرونو د قانوني پړاوونو تېرولو لپاره د سیستم تابع وي.

په اداراتو کې د اصلاحاتو راوستلو او د اداري فساد د له منځه وړلو لپاره مختلفې برخې د ستراتېژیو د تدوین برخه ګرځي چې په دې برخه کې د قانوني پړاوونو تغیر، د تخنیکي پلانونو پراخول، د پروسو لنډول، د ټکنالوژیکو موډلونو وړاندې کول، د بشري سرچینو د ظرفیت لوړول، د ځوانې کاري قوې ځای پر ځای کول، د مالي سیستمونو جوړول، د اصلاحاتي پلانونو تطبیق، له اصلاحاتي چارو څخه جدي نظارت او د کاري ټیمونو ارزول حتمي ګڼل کېږي.

د فساد د له منځه وړلو لپاره د تخنیکي ستراتېژیو جوړول او د اداراتو قانونمندول اساسي عوامل ګڼل کېږي.


**۵- د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د ارادې نه شتون**

د فساد پر وړاندې د جدي ارادې شتون د اداري فساد د له منځه وړلو په برخه کې د ذهنیتونو چمتو کېدو ته لاره هواروي. د سازمانونو او اداراتو رهبري پلاوي له فساد سره د مبارزې په موخه دا په ډاګه کوي چې ګواکې د فساد د له منځه وړلو لپاره قوي اراده را منځته شوې، خو دا اراده په تېرو ۱۸ کلونو کې هېڅکله هم په جدي توګه مطرح نشوه. که څه هم حکومت له پیله یو لړ هڅې د فساد دله منځه وړلو لپاره پیل کړې، خو بیا هم د فساد کچې ته په کتو کافي نه دي.

**دوام لري...**

---

# عایشه خُرم: د افغانانو پر ضد روانه جګړه، د یوې نړیوالې خونړۍ لوبې برخه ده



نړیوال دي په افغانستان کې روانه تپل شوې خونړۍ جګړه ودروي. د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د افغانستان په اړه غونډه جوړه شوې وه. په دغه غونډه کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو استازي، په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي استازې، د ملګرو ملتونو لپاره د افغان ځوانانو استازې او د دغه شورا غړو هېوادونو استازو ګډون کړی و. دوی په افغانستان کې پر روان وضعیت، سولې او امنیتي مسایلو خبرې کړې دي. په ملګرو ملتونو کې د افغان ځوانانو استازې عایشې خُرم ویلي چې دلته یوه تپل شوې جګړه روانه ده چې د یوې سترې لوبې برخه ده.

تېره ورځ د ملګرو ملتونو امنیت شورا د افغانستان په اړه ځانګړې غونډه جوړه کړې وه. په دغه غونډه کې په ملګرو ملتونو کې د افغان ځوانانو استازې عایشې خُرم وویل چې په افغانستان کې یوه تپل شوې خونړۍ جګړه روانه ده او دا جګړه د یوې لویې خونړۍ نړیوالې لوبې برخه ده. د نوموړې په وینا، دا جګړه پر افغانانو تپل شوې او په خبره یې، هېڅ افغان ځوان د دغه جګړې پیلوونکی نه دی او نه یې هم دوام غواړي.

نوموړې د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د خبرو پر مهال وویل، چې دلته روانه خونړۍ جګړه یوازې له افغانانو قرباني اخلي، په داسې حال کې چې اصلي لوبغاړي یې نور دي او له بهره کنټرولېږي. نوموړې ټینګار وکړ چې افغانان د خپلې خوښې پرخلاف په دې جګړه کې ښکېل شوي او د دې جګړې اصلي قربانیان دي. د نوموړې په خبره: ((دا جګړه د افغانستان پر خلکو تپل شوې، د سترې لوبې تولید دی، موږ له خپلې خوښې پرته پکې ښکیل کړای شوي یو، او اصلي قربانیان یې هم موږ یو)).

عایشې خُرم له اسنادو او شواهدو سره ویلي چې په تېرو کلون کې هوایي بریدونو، شپنیو عملیاتو او خونړیو چاپو دغه جګړه نه ده کمه کړې، بلکې ورځ تر بلې یې خونړۍ کړې او د ملکي وګړو مرګ ژوبله یې لوړه کړې ده. هغه زیاتوي چې دې جګړې اوس خپل ماهیت بدل کړی او د ترهګرۍ ضد جګړه د عامو افغانانو ضد جګړې باندې اوښتې ده. د نوموړې په خبره: ((افغانستان کې روانه جګړه نور یوازې د ترهګرۍ ضد جګړه نه ده. دا اوس د هغو بې ګناه افغانانو پر وړاندې جګړه ده چې یوازینۍ هیله یې سوله ده. که د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د دغه روان ناورین د قربانیانو نارې واورئ، نو ټول همدا وایي چې، جګړه ودروئ، وژنې بندې کړئ د افغانانو کلي هېڅا ته خطر نه دي)).

عایشې خُرم په دغه غونډه کې له ملګرو ملتونو په تېره امنیت شورا وغوښتل چې د افغانستان د سولې په پروسه کې رښتینی او عملي رول ولوبوي. د نوموړې په وینا، سوله د هر افغان هیله ده او ټول افغانان د سولې غوښتونکي دي، نو له همدې امله د ټولو عامو افغانانو په تېره افغان ځوانانو هیله دا ده چې ملګري ملتونه او د دغه سازمان امنیت شورا د افغان سولې په برخه کې مثبت رول ولوبوي. عایشه خُرم وایي، افغانستان د تاریخ په مهمه مرحله کې دی او د دې اړتیا ده چې ملګري ملتونه خپل رښتینی مسوولیت ادا کړي. د آغلې خُرم په خبره: ((موږ د تاریخ په دې مهم پړاو کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا صادقانه او نه ستړې کېدونکې هلې ځلې غواړو، چې یو فعال رول ولوبوي او د سولې توافقنامه کې زموږ د حقونو ضانت کوونکی واوسي)).

د عایشې خُرم تر څنګ په دې غونډه کې د یوناما مشر تادامیچي یاماموتو هم دلته د سولې پر اهمیت خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې افغانان تر بل هر وخت اوس ډېر د سولې تږي دي او باید نړیوال په دې برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي. د چین او جرمني استازو هم په دې غونډه کې خبرې کړې دي. چینایي استازي په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو هوایي بریدونه او خونړي عملیات د جګړو د پراختیا لامل بللي او ددغه ځواکونو د مسوولانه وتلو غوښتنه یې کړې ده. جرمني بیا ویلي چې دوی د سولې په برخه کې هر راز مرستو او همکاریو ته تیار دي.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**درېیمه برخه**

**افغانستان**

## لسم څپرکی
## په لوی کندهار کې نوي طالبان



د دوهمې برخې لپاره یوه ښه بېلگه ملا عبدالغني برادر یادولای شو، هغه د طالبانو د حکومت پر مهال د نظامي مشر په توگه دنده لرله. کندهاری شنونکی عبدالحبیب خان وایي: ((په ۲۰۰۱ز کال حامد کرزي ملابرادر له زندان خوشې کړ، نوموړي ته ۲۵ وسلې په دې موخه ورکړل شوې چې گني له برادر څخه د گواښ وېره نه وه. ملابرادر له زندان څخه له وتلو وروسته خپل پلرني ټاټوبي ارزگان ته لاړ. ځایي خلکو هغه ته د سوله ییز ژوند مبارکۍ وویلې، خو د دریو میاشتو په اوږدو کې د هغه ژوند له گواښونو سره مخ شو. یوه ورځ یې د هغه د تره بله ورځ یې د هغه د پلار پر کور چاپې ووهلې. برادر وسلې اخیستو ته اړ او پاکستان ته کډه شو.)) د پولیسو پخوانی افسر او د ولسي جرگې اوسنی استازی، عبدالرحیم ایوبي هم وایي، ځیني هغه طالبان چې جگړه یې نه غوښتنه، د حکومت له لوري د نیول کېدو له کبله یې جگړې ته مخه کړه. د حکومت کمزورۍ او اداري فساد هم ځیني پښتانه د طالبانو لیکو ته هڅولي وو. یوه کندهاري راته وویل: ((د ستونزو درېیمه برخه طالبانو ایجاد کړې، نورې ټولې هغه د حکومت له خپل ضعف څخه دي.))

د ملا محمدعمر په گډون ډېری طالبان د لوی کندهار دي. پاکستاني جهادیان، چې ډېری یې پنجابیان دي هم په دې سیمه کې فعال دي. د القاعدې او د منځنۍ اسیا هېوادونو د افراطي ډلو کسان د پاکستان په قبایلي سیمو کې مېشت دي چې د امریکایانو له لوري پرې اکثره وختونه بریدونه کېږي. طالبانو له هغو بهرنیانو ځانونه لیرې کړل چې په پراخ تاوتریخوالي کې یې لاس لاره. کله چې په عراق، یمن او سومالیا کې جگړې پیل شوې، په ځانگړې توگه له عرب پسرلي سره د پښتنو له سیمو ځیني نړیوال جهادیان ووتل.

طالبانو پر هغو مذهبي مسائلو تکیه کوله چې د خپل قدرت په پیل کې یې وړاندې کړي وو. د طالبانو مشـرانو له خپل هغه نوم څخه ښه گټه اخیسته چې گني د خلکو په منځ کې په اداري فساد ککړ نه دي ښودل شوي. د هغوی د ژوند ساده بڼې، له عامو افغانانو سره ناستې ولاړې او پر وخت د عدالت د پلي کېدو ژمنتیا د خلکو په منځ کې محبوب کړي وو.

که څه هم طالبانو او د هغوی په بڼه نورو ډلو ته هم د طالبانو په سترگه کتل کېدل، خو د هغوی په موخو او گټو کې لوی توپیرونه وو. په خپله د افغان طالبانو ډلو په عمومي موخو کې همغږي وه، هغوی ټولو غوښتل، بهرنیان له افغانستان وشړي او اوسنی حکومت نسکور کړي. هغوی ټول غواړي چې یو اسلامي نظام پلی کړي خو په وړو تاکتیکي مسائلو کې له یو بل سره د نظر اختلاف لري. په لوی کندهار کې د پخوانیو طالبانو غړي چې ځان د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریک بولي د یوه مشـروع نظام په لټه کې دي او د هېڅ ډول تاوتریخوالي پلوي نه کوي. د لویې پکتیا حقاني شبکې ډېر داسې بریدونه کړي چې ملکي وگړو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې، له همدې کبله د خلکو په منځ کې پراخ نفوذ نه لري. د حقاني شبکې مشـران د پاکستان خارگرو ته هم ډېر نږدې او وفادار دي.

ځیني وخت د طالبانو د رهبرۍ په کچه سیالۍ توندېږي. هغه وخت به د همغږۍ چاره لا له گواښونو سره مخ شوه چې د جگړې په ډگر کې به ځینو طالب قوماندانانو د خپلو مشـرانو خبرې نه منلې، خپل سرې کړنې به یې ترسره کولې. دا مهال د طالب مشـرانو تر منځ سیالۍ د شخصي، قومي او سیاسي توپیرونو پر بنسټ راپورته شوې وې. د ملا محمدعمر په گډون ډېری طالبان د پښتنو له درانیو او غلجیو وو، ځیني یې له ترین او کاکړو قومونو دي.

د افغانستان د ډېریو اوسېدونکو په څېر طالبان هم د حنفي مذهب پلویان وو، د طالبانو د رهبرۍ ډېری مشـرانو د پاکستان په دېوبندي مدرسو کې زده کړې کړې وې، ځکه نو هغوی هم د اسلام د سختې بڼې پر پلي کېدو ټینگار کاوه، خو طالبانو د پاکستاني افراطي ډلو په څېر فرقه یي اختلافونو ته ډېره لمن نه وهله. هغوی د سلفیانو، حنبلیانو او په اسلام کې د ننه له نورو ډلو سره اختلاف نه لاره، ان په خپل تحریک کې یې هغوی ته ځای هم ورکړی و. د طالبانو ویاند ذبېح الله مجاهد وایي: ((زموږ بنسټیزه موخه د مسلمانانو تر منځ یووالی دی. دا هغه اړیکې دي چې موږ یې د نورو مذهبونو له پلویانو سره لرو، همداسې به دوام ورکوو.))

که څه هم طالبانو له شیعه مسلمانانو سره اختلاف لاره، خو د پاکستاني افراطي ډلو په څېر یې هېڅکله د افغانستان له شیعه مسلمانانو سره جگړه ونه کړه. طالبانو ته هېڅ مسلمان هېواد د بشپړ شریعت پلي کېدونکی هېواد نه ښکاري.

د طالبانو جگړه‌ییز اقتصاد تر ډېره په ۱۹۸۰ز لسیزه، د پښتنو په سرحدي سیمو کې د پیل شوې جگړې په پایله کې خړوبېږي. د طالبانو هره شبکه ځان ته مالي جوړښت لري. د بېلگې په توگه، د حقاني شبکې اقتصادي سرچینې تر ډېره پر پاکستان متکي دي. په سویلي افغانستان کې د طالبانو د اقتصادي پیاوړتیا لویه سرچینه له ځایي خلکو څخه د زکات اخیستل دي. هغوی د تریاکو د کروندگرو په شمول له ټولو ځمکه لرونکو عشر هم اخلي. د پیسو لپاره د انسانانو تښتول خو په ټوله نړۍ کې د یاغي ډلو د اقتصادي سرچینو یوه مهمه برخه جوړوي.

**دوام لري...**

# طالبان په جاپان کې؛ موږ په وار سا کې

اکسوس کتابپلورنځی


«د امریکا تر حملې وروسته تر ۲۰۰۹ ز کال پورې یوازې د جگړې خبرې کېدې، د هېچا له خولې داسې نه اورېدل کېدل چې طالبانو ته دې د سولې د خبرو حق ورکړل شي. افغان حکومت د سولې په نوم د بیا پخلاینې او بیا وروسته د سولې عالي شورا په نوم جوړښتونه جوړ کړي وو، د بیاپخلاینې مشري حضرت صبغت الله مجددي کوله چې له نومه یې ښکاري چې حکومت غوښتل چې طالبان ورسره یوځای شي.

همدارنگه د سولې عالي شورا مشري هم د لومړي ځل لپاره استاد برهان الدین رباني ته ورکړل شوه، بیا هم ټوله هڅه دا وه چې طالبان د افغان حکومت برخه شي، له حکومت سره یوځای شي.

په ۲۰۰۹ ز کال کې امریکایانو چمتووالی وښود چې له طالبانو سره د خپل بندي پوځي بوبرېگډال د خلاصون اړوند خبرې وکړي، د طالبانو د سیاسي کمېسیون مشر طیب آغا قطر او جرمني ته سفرونه وکړل. همدارنگه په ۲۰۱۰ ز کال کې د امریکایانو درک کړه چې جگړه نه شي گټلی، نو له همدې کبله یې په قطر کې د طالبانو له سیاسي دفتر سره هوکړه وکړه او د دوی ترمنځ لیدنې وشوې....

په دغسې جگړه ییز حالت کې د سولې خبرو یادونه طالبانو ته پرته له شکه چې په ځان باندې خطر منل وو او بیا داسې چې په کوم بهرني هېواد کې به د طالبانو استازي د سولې اړوند خبرو په غونډه کې گډون کوي.

موږ همدا خطر پر ځان ومانه، طالبانو ومنله چې جاپان ته به خپل واک لرونکي استازي استوي او په زړه پورې خو دا وه چې د امریکا تر حملې ۱۱ کاله وروسته په لومړي ځل د طالبانو استازولي په بهر(جاپان) کې زموږ تاجک ورور قاري دین محمد حنیف کوله. په داسې حال کې چې کورنیو او بهرنیو رسنیو د طالبانو جوړښت قوي او پښتنو ته منسوباوه. دا چې په جاپان کې د طالبانو او افغان حکومت د استازو ترمنځ څه ډول تعامل وشو، طالبانو څه غوښتل، په همدې کتاب کې یې لوستلی شی....)



پورتنی متن د (طالبان په وارسا کې؛ موږ په جاپان کې) کتاب یوه برخه ده. یاد کتاب تازه په پښتو ژبه انجنیر نظرمحمد مطمئن لیکلی، چې د افغانستان د تېرو نږدې دوو لسیزو جگړو، د امریکایانو، افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې په تړاو د ناستو، په ځانگړې توگه د جاپان او د وارسا د غونډو په اړه ډېرې ناویلې خبرې له ځانه سره لري. دغه کتاب ټولټال په ۱۶۰ پاڼو کې راټول شوی دی. مینه وال یې کولای شي چې په کابل کې پر اکسوس کتابپلورنځي سربېره، د هېواد له نورو لویو کتابپلورنځیو هم ترلاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | THE ALCHEMIST | PAULO COELHO | ۱۵۰؋ |
| ۲ | Tree or Three Elementary Pronunciation | ANN Baker | ۱۲۰؋ |
| ۳ | Ship or Sheep? an intermediate pronunciation Course 3th | | ۱۴۰؋ |
| ٤ | Better English Pronunciation | J.D.O'Connor | ۱۲۰؋ |
| ۵ | پردېس عربي پښتو قاموس | عبدالرحمن بن ابراهیم | ۱۵۰؋ |
| ٦ | پلټونکې خبریالي | پوهیالی احمدضیا الهام | ۷۰؋ |
| ۷ | اړیکو اساسات | پوهندوی محمدخان نیازی | ۲۳۰؋ |
| ۸ | په افغانستان کې د عنعوي جرگو نن او پرون | عبدالجلیل وجدي | ۱۵۰؋ |
| ۹ | تهیه او تدارکات د تدارکاتو قانون | سراج الدین حلیمزی | ۱۵۰؋ |
| ۱۰ | د انجنیر احمدشاه احمدزي ژوند او مبارزه | څېړنوال محمد آصف احمدزی | ۳۰۰؋ |
| ۱۱ | د ځان مدیریت | محمد ابراهیم رحیل | ۷۰؋ |
| ۱۲ | تاریخ افکار سیاسی با تجدید نظر و اضافات | عنایت الله اکبری | ۱۸۰؋ |
| ۱۳ | بایبل پیژندنه | عبدالغفار جبیر | ۱۱۰؋ |
| ۱٤ | د گوانتانامو ۳ بندیان | انجنیر نظرمحمد مطمئن | ۸۰؋ |
| ۱۵ | طالبان په جاپان کې موږ په وارسا کې | | ۱۲۰؋ |
| ۱٦ | طالب مشرانو سره شپږ ورځې د کندهار د سولې چیغه | | ۲۰۰؋ |
| ۱۷ | ښکلي ځوابونه | عبدالغفار جبیر | ۱۸۰؋ |
| ۱۸ | داستان جهاد افغانستان روایت کرنل | احمد رضوان تارر | ۱۰۰؋ |
| ۱۹ | د افغانستان د جهاد داستان | | ۱۰۰؋ |
| ۲۰ | فشرده تاریخ سیاسی جهان | پوهنیار دگروال تاج محمد صائب اسماعیل روشنگر | ۳۰۰؋ |
| ۲۱ | زما ژوند د هوا په ستړیو څپو کې | ډگر جنرال قهرمان عبدالوهاب وردگ پیلوت | ۱۰۰؋ |
| ۲۲ | په نیمه لار کې پاتې (ناول) | صحت سمسور | ۷۰؋ |
| ۲۳ | بسپنه (ناول) | عبدالهادي حماس | ۱۵۰؋ |
| ۲٤ | لېونی پر بام | عزیز نسین | ۱۰۰؋ |
| ۲۵ | اساسات نرسنگ | الحاج داکتر ریاض شرف زی | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | د خندا په څپو کې له خندا او ساتیرۍ سره انگلیسي هم زده کړئ | دلاور حقمل | ۱۰۰؋ |
| ۲۷ | ماندلا مبارز بی کینه | جاوید قربان اوغلی | ۲۵۰؋ |
| ۲۸ | روایت های طالبان | توماس جانسون | ۳۰۰؋ |
| ۲۹ | فیدل کاسترو پس از کناره گیری | داود جلیلی | ۱۰۰؋ |
| ۳۰ | د جذب ځواک (څنگه خلک ځان ته جذب کړو) | محب الله عمری | ۱۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## راپوروڼه: د پاکستان يوې ځانګړې محکمې د دغه هېواد پخوانی ولسمشر پروېز مشرف په اعدام محکوم کړی



د پاکستان يوې ځانګړې محکمې د هغه هېواد پخواني پوځي ديکتاتور جنرال پروېز مشرف ته د مرګ سزا اورولې ده.
دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۱۳ میلادي کال د نواز شريف په مشرۍ د مسلم لیګ نواز ګوند د حکومت تر راتلو وروسته، دغه حکومت پر جنرال مشرف د قانون ماتولو له امله د غدارۍ دوسيه ثبت کړه چې وروسته بيا د دغې قضيې د څېړلو لپاره ځانګړې محکمه هم جوړه شوه.
تر دې وروسته مشرف يوازې يو ځل دغې محکمې ته حاضر شو او بيا د درملنې لپاره له هېواده بهر لاړ چې تر دې دمه له پاکستانه بهر دی.
د پاکستاني رسنيو د راپوروڼو له مخې، جنرال مشرف ته دغې ځانګړې محکمې د غدارۍ او قانون ماتولو له امله د اعدام سزا اورولې ده.
د يادونې ده چې پروېز مشرف په ۲۰۰۷ ميلادي کال د پاکستان قانون وځنډاوه او په دغه هېواد کې يې بېړنی حالت اعلان کړ.
که څه هم د پاکستان ځانګړې محکمې په تېر نومبر مياشت کې د مشرف د قضيې پرېکړه کړې وه، خو خوندي يې ساتلې وه او تر يوه کلن ځنډو وروسته يې تېره ورځ اعلان کړه.
د راپوروڼو له مخې، د مشرف د قضيې اورېدنه دريو قاضيانو کوله چې له دې ډلې دوو نوموړي ته د اعدام د سزا اورولو پلوي کړې ده.
دا د پاکستان په تاريخ کې لومړی ځل دی چې يوه ځانګړې محکمه د دغه هېواد پوځي ديکتاتور ته د مرګ سزا اوروي.
په ورته وخت کې رويټرز خبري اژانس د پاکستان د يو حکومتي چارواکي سلمان نديم له قوله ويلي: «پروېز مشرف د پاکستان د اساسي قانون ماتولو په تور د شپږمې مادې په اساس مجرم بلل شوی دی».
د يادونې وړ ده چې مشرف لا تر دې دمه د ځانګړې محکمې د پرېکړې په اړه غبرګون نه دی ښودلی.
جنرال پروېز مشرف په ۱۹۹۹ ز کال کې د کودتا له لارې په پاکستان کې د چارو واګې په لاس کې واخيستې او وروسته د دغه هېواد ولسمشر شو.
د يادونې ده چې له پروېز مشرف سره د دې پرېکړې خلاف سترې محکمې ته د مراجعې ۳۰ ورځې وخت شته، خو د دغه کار لپاره بايد مشرف پاکستان ته راستون او محکمې ته حاضر شي.

## يونيسف: په افغانستان کې د جګړې له کبله د ماشومانو مرګ ژوبله ۱۱ سلنه لوړه شوې ده

په افغانستان کې له ماشومانو د ملګرو ملتونو د ملاتړ صندوق يا يونيسف ويلي چې په دغه هېواد کې د جګړې له امله د ماشومانو په تلفاتو کې د تېر کال په پرتله ۱۱ سلنه زياتوالی راغلی دی.
يونېسف دغه راز په افغانستان کې د ماشومانو وضعيت د اندېښنې وړ بللی او ويلي يې دي چې دغه څه ورته د منلو وړ نه دي.
د يونيسف د نوي خپور شوي راپور پر اساس، په ورځني ډول په افغانستان کې د جنګ جګړو له امله ۹ ماشومان ټپيان يا وژل کېږي.
په افغانستان کې د يونيسف استازي ابوبکر کمپو تېره ورځ په کابل کې رسنيو ته وويل چې دغه شمېرو ته په کتو، ويل کېدای شي چې روان ۲۰۱۹ ميلادي کال د افغان ماشومانو لپاره خونړی بلل کېږي. هغه زياته کړې: «په افغانستان کې په منځني ډول هره ورځ د جنګ جګړو له امله ۹ ماشومان وژل کېږي يا هم ټپيان کېږي، پوهېږو چې دا وضعيت له تېرو ۴۰ کالو راهيسې روان دی، د روان ميلادي کال په دريو لومړيو ربعو کې ٦۳۱ ماشومان وژل شوي او ۱۷۳۰ نور ټپيان شوي دي، دا شمېرې د تېر ۲۰۱۸ ز کال په پرتله ۱۱ په سلو کې زياتوالی ښيي او ټکان ورکوونکي دي».
کمپو د ځانمرګو بريدونو زياتوالی، بمي چاودنې او د افغان ځواکونو او مخالفو وسله‌والو ترمنځ مخامخ جګړې د ماشومانو د زيانونو د زياتېدو عمده لاملونه ياد کړي دي.



د يونېسف په دغه راپور کې راغلي چې د ۲۰۰۹ نه تر ۲۰۱۸ ميلادي کال پورې په دغه هېواد کې ٦۵۰۰ ماشومان وژل شوي او شاوخوا ۱۵۰۰۰ نور ټپيان شوي دي.
دغه راز بشري مرستو ته د ۳،۸ ميليونه ماشومانو نه‌لاسرسی، له زده کړو د ۳،۷ ميليونو ماشومانو بې‌برخې‌توب، په خوارځواکۍ اخته شپږ لکه ماشومان او په درنو کارونو د ۳۰ سلنه ماشومانو بوختيا هغه مسايل دي چې په دغه راپور کې ورته اشاره شوې ده.
مخکې تر دې د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسيون هم د ماشومانو په نړيواله ورځ کې او د ماشومانو د حقونو د کنوانسيون د تصويب په ۳۰مه کليزه کې د دغه وضعيت په اړه اندېښنه ښودلې وه.
دغه کمېسيون ويلي، د نا امنيو د پراخېدو له امله د تېر کال په پرتله د ماشومانو وضعيت بدتره شوی دی.
د دغه کمېسيون وياند شکرالله مشکور ويلي: «له بده مرغه په دې وروستيو کلونو کې د جګړو له امله د ماشومانو ترڅنګ، ښځې هم وژل شوي او ټپياني شوې دي او کمېسيون د دغه وضعيت په اړه ډېر په اندېښنه کې دی، موږ خوشبينه يو که سوله راشي، د ماشومانو او ټولو افغانانو ژوند به ښه شي، خو که خدای ناخواسته جګړه همداسې روانه وي وضعيت به تر دې هم بدتره شي».

## ايسپر: ښايي له طالبانو سره تر هوکړې مخکې هم د سرتېرو شمېر راکم کړو

د امريکا دفاع وزير مارک ايسپر ويلي، له وسله والو طالبانو سره د سولې له هوکړې مخکې هم په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر کموي.
ايسپر ويلي، په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان ورته ويلي چې د امريکايي سرتېرو د شمېر په کموالي سره به له ترهګرۍ سره د مبارزې او دغه راز د افغان ځواکونو د روزنې بهير کې به هېڅ خنډ را منځته نه شي.
د امريکا دفاع وزير دغه راز ويلي چې له طالبانو سره د سولې له احتمالي هوکړې مخکې او يا هم وروسته پنټاګون کولی شي چې په افغانستان کې خپل ځواکونه راکم کړي.
ايسپر ويلي: «زه له ډېره وخته وايم، فکر کوم چې کولای شو په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر کم کړو؛ ځکه قوماندان مېلر باوري دی چې کولای شي د ترهګرۍ ضد ټول مهم ماموريتونه او همداراز د افغان ځواکونو د روزنې، سلامشورو ورکړو او مرستې هم په همدې شمېر ځواکونو سره ترسره کړو، څو ډاډ ترلاسه کړو چې افغانستان به بيا هېڅکله هم د ترهګرو لپاره پر امن پټنځای بدل نه شي».
په ورته وخت کې مخکښ امريکايي سناتور ليندسي ګراهام ويلي: «زه فکر کوم چې له پاکستان سره د ولسمشر ټرمپ اړيکې کولی شي اوسنی وضعيت په داسې توګه بدل کړي چې په رښتيا به د سولې ټينګښت بهير ګړندی کړي. ټول پر دې پوهېږو که پاکستان پر طالبانو ډېر فشار اچولی وای، نو د سولې په بهير کې به يې ډېره مرسته کړې وای».
له دې سره سم، افغان حکومت له هېواده د بهرنيو ځواکونو پر مسوولانه وتلو ټينګار کوي.
د ولسمشر وياند صديق صديقي ويلي: «سناتور ګراهام د وضعيت د څېړلو لپاره افغانستان ته سفر وکړ، په ځانګړې توګه دا چې امريکايي ځواکونه په تدريجي او مسوولانه توګه ووځي، د خبرو يوه برخه وه».
بل لور ته طالبانو ته نږدې سرچينې وايي چې په راتلونکې اونۍ کې به د امريکا او طالب استازو تر منځ د سولې هوکړه لاسليک شي.
پخواني طالب چارواکي سيداکبر اغا ويلي: «مذاکرات چې پيل شي او د هوکړه ليک په اړه چې لاسليک شي؛ ډېره شونې ده چې دا کار به په راتلونکې اونۍ کې وشي».
د يادونې ده چې په قطر کې د امريکا او طالب استازو تر منځ خبرې له څو ورځو راهيسې د دواړو خواوو له مشرانو سره د سلامشورو لپاره درول شوې، خو سرچينې وايي چې دغه خبرې به ښايي تر راتلونکو دوو ورځو پورې بيا پيل شي.

## ملګري ملتونه: د ولسمشريزو ټاکنو نوماندان بايد د ټاکنو پايلې ومني

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړې استازي تداميچي ياماموتو هيله ښودلې چې د ولسمشرۍ ټاکنې ژر اعلان او له کانديدانو يې غوښتي چې پايلې يې ومني.
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د دفتر يا يوناما له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې ياماموتو دغه څرګندونې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ځانګړې غونډې ته کړې دي.
په ورته وخت کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دايمي استازې مېرمن عادلې راز هم دغې غونډې ته د افغانستان د اوسني وضعيت په اړه معلومات وړاندې کړي دي.
د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې پر نړيوالو غږ کړی چې د افغانستان له راتلونکې اداري سره دې هم مرستې رواني وساتي چې له ۲۰۱۵ څخه تر ۲۰۲۴ ز کال پورې په اقتصادي پرمختګ، سولې او نورو برخو کې پلان شوي پروګرامونه بشپړ شي.
تاداميچي د خبرو په پيل کې په افغانستان کې د ولسمشرۍ ټاکنو په اړه په ډېر وضاحت سره معلومات ورکړي دي.
هغه زياته کړې، هغوی په دغې پروسې کې شته ستونزې منلې او ځينو کانديدانو د دغې پروسې په اړه خپلې اندېښنې هم ورسره شريکې کړې، خو هيله يې ښودلې چې د ټاکنو پايلې ژر اعلان شي.
د يوناما مشر د ولسمشرۍ له ټولو کانديدانو او د هغوی له پلويانو غوښتي چې د ټاکنو پايلې ومني چې له دې کار سره به په افغانستان کې يو قانوني با اعتباره سياسي سيستم رامنځته شي.
تداميچي په افغانستان کې د سولې خبرو اترو کې د برلاسي لپاره د طالبانو بريدونو کې زياتوالی ډېر خواشينونکی بللی دی.
هغه دغه راز زياته کړې چې د افغانستان حکومت غواړي د سولې پروسه بايد يوازې په افغانستان پورې تړلې نه وي، بلکې ګاونډي هېوادونه يې په اړه يوه خوله وي او په دغه برخه کې يوه سيمه ييزه اجماع هم رامنځ ته شي.
نوموړي د خپلو خبرو په پای کې يادونه کړې چې افغانستان بهرنيو مرستو ته اړتيا لري او بايد له نوې اداري سره هم مالي مرسته وشي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۷۵ |
| € | ۸۷,۵۰ |
| Rp. | ۵۰٦ |
| ₹ | ۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰٤ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنی شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱۸مه | ۴۸۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۹ | ۱۵ | ۹ | ۱۹ | ۱٦ |
| ۰ | ۱ | ٦ | ۵ | ۵ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲٤ | لمر ختل ۰٦:۵۳ | ماسپښین ۱۱:٤۹ | مازیګر ۰۲:۲۷ | ماښام ۰٤:٤۵ | ماخوستن ۰٦:۱۵

## نړۍ



## راپورونه: د پاکستان یوې ځانګړې محکمې د دغه هېواد پخواني ولسمشر پرویز مشرف په اعدام محکوم کړی

۳

## گوتریش: په تېره یوه لسیزه کې په نړیواله کچه لس میلیونه کسان کډوال شوي دي



د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش ویلي، چې په تېره یوه لسیزه کې په نړیواله کچه لس میلیونه کسان له خپلو سیمو کډوال شوي دي.
په جنیوا کې د کډوالو په تړاو په نړیواله غونډه کې ګوتریش ویلي چې د جګړو او نورو ګواښونو له لاسه د تښتېدلو میلیونو کسانو د کړاو د کمولو لپاره دې ښېړنې اقدامات وشي.
هغه زیاته کړې، چې د پناه غوښتنې حق له یرغل سره مخ دی او کوچنیان له خپلو کورنیو جلا کېږي.
د یادونې ده چې په جنیوا کې جوړه شوې دا غونډه د کډوالو پر ستونزو او د هېوادونو پر مسوولیتونو غږېږي.
په ورته وخت کې د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداري هم تېره یوه لسیزه د کډوالو د بې ځایه کېدو لسیزه بللې او ویلي یې دي چې په اوسنۍ درې ورځنۍ نړیواله سرمشریزه کې یې هڅه دا ده چې د لس میلیونو کډوالو ستونزې ته اوږد مهاله حال پیدا کړي.
د دې اداري د چارواکو په وینا، په تېره لسیزه کې لس میلیونه وګړي له خپلو هېوادونو د بحرانونو او عدلي ځار له امله نورو هېوادونو ته تللي دي.
د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداري مشر فلیپو ګرانډي ویلي چې دا د ټولو هېوادونو ګډ مسوولیت دی چې د کډوالو پېټی اوچت کړي.
د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداري له خوا د خپرو شویو شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې ۷۰.۸ میلیونه وګړي له خپله مېنو بې ځایه شوي دي.
په دغو شمېرو کې ۴۰.۳ میلیونه یې په کور دننه بې ځایه شوي، ۲۵.۲۹ میلیونه هغه وګړي دي چې دې اداري د ګډوالو په توګه پېژندلي.

## گورباچوف: امریکا پر ټولې نړۍ نظامي واکمني غواړي، خو دغه څه امکان نه لري



د شوروي اتحاد وروستي ولسمشر میخایل ګورباچوف ویلي، امریکا پر ټولې نړۍ د نظامي واکمنۍ په هڅه کې ده او له همدې امله کوښښ کوي چې د اټومي وسلو له نړیوالو معاهدو ځان وباسي.
د د روسیې د تاس خبري اژانس د خبر له مخې، ګورباچوف په خپله تازه مرکه کې ویلي، امریکا د نړۍ په کچه شر جوړوونکی هېواد دی، خو د ده په خبره، له نېکه مرغه چې په اوسنۍ نړۍ کې هغه څه ناممکن دي چې امریکا یې په لټه کې ده. هغه د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړې، اوسنۍ نړۍ د دوه اړخیز درناوي پر بنسټ خپلې اړیکې جوړوي او له همدې امله کولی شم ووایم چې امریکا به هېڅکله خپل دغه ارمان ته ونه رسېږي. د نوموړي په باور، که نوره نړۍ هم د امریکا دې هڅو ته په پام د اټومي وسلو لوبې پیل کړي، نو ډېر ژر به له ګډوډیو سره مخ شي. هغه زیاته کړې، امریکا او روسیه باید د اټومي وسلو د کنټرول پر مسئله له سره خبرې اترې پیل کړي او په وینا یې د حل یوازینۍ لار همدا ده.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د روسیې او امریکا ترمنځ د منځني واټن ویشتونکو اټومي توغندیو هغه تړون مات شو، چې له کبله یې دواړو هېوادونه د یادو وسلو له جوړولو منعه شوي وو.


## تیم ثبات و همگرایی: بدون بازشماری مجدد ۲۷ ولایت نتایج انتخابات را نمی پذیریم



تیم انتخاباتی ثبات و همگرایی می گفته است تا زمانی که بازشماری مجدد ۲۷ ولایت صورت نگیرد، نتیجۀ انتخابات را نمی پذیرد؛ اما کمیسیون انتخابات می گوید که پروسۀ بازشماری در ۲۷ ولایت تکمیل شده است.
محمد یونس نواندیش عضو تیم انتخاباتی ثبات و همگرایی، دیروز در مقر کمیسیون انتخابات به رسانه ها گفته است که آرای ۲۷ ولایتی که بدون حضور ناظرین تیم ثبات و همگرایی و برخی از تکت های انتخاباتی دیگر از سوی کمیسیون انتخابات، تفتیش و بازشماری شده است، مجدداً نیاز به تفتیش و بازشماری دارد.
نواندیش افزوده است: «تا زمانی که بازشماری مجدد در حضورداشت، ناظرین ما صورت نگیرد، نتایج انتخابات برای ما قابل قبول نیست».
این در حالی است که داکتر عبدالله عبدالله رهبر تیم انتخاباتی ثبات و همگرایی، چهار روز پیش از هوادارانش تقاضا کرد که برای تفتیش و بازشماری آرأ در هفت ولایت اجازه دهند.
کمیسیون مستقل انتخابات نیز سه روز پیش، روند تفتیش و بازشماری آرأ در ولایات فاریاب، جوزجان، بدخشان، تخار، بغلان، سرپل و پنجشیر را به گونۀ رسمی آغاز کرد و تاهنوز در ولایات جوزجان، پنجشیر، سرپل و تخار، روند بازشماری و تفتیش تکمیل شده است.
کمیسیون مستقل انتخابات به تاریخ ۱۸ عقرب، روند تفتیش و بازشماری آرای ۸۲۵۵ محل را آغاز کرد؛ اما برخی تکت های انتخاباتی به خصوص تیم ثبات و همگرایی، در واکنش این امر دست به اعتراض زدند و در هفت ولایت مانع این روند شده بودند.
اما عبدالقادر هوتخیل، یکتن از ناظرین تیم دولت ساز، با اشاره به اظهارات تیم انتخاباتی ثبات و همگرایی در مورد بازشماری مجدد ۲۷ ولایت، گفته است که تیم ثبات و همگرایی، اکنون تلاش دارد که به شکل دیگری پروسه را به گروگان بگیرد.


## ژوند

## څه ډول ماشوم له ذهني فشار وژغورو؟



په ښوونځي کې ډېر کار او د شپې له خوا د ټلوېزیون او کمپیوټر ډېر استعمال کوچنیان له ذهني فشار سره مخ کوي. ډاکټرانو تر یوې نوې څېړنې وروسته ویلي چې ذهني فشار په کوچنیانو کې د سر درد د پیدا کېدو لامل کېږي. د دې لپاره چې په کوچنیانو کې د سر درد ستونزه ختمه شي، باید له ذهني فشاره لرې وساتل شي او د دې لپاره په کار ده چې په ښوونځیو کې ورته د تفریح او لوبو ډېر فرصتونه برابر شي، دا کار کولای شي هغوی له ذهني فشاره وساتي. ډاکټران سپارښتنه کوي چې د ټلوېزیون په کتو او د کمپیوټر په استعمال کې کمی هم په دې برخه کې مرسته کوي چې په وینا یې دا کار د یو کوچني په روغتیا کې مهمه ونډه لري. د ټلوېزیون ډېر لیدل د نورو ستونزو تر څنګ د سترګو د دید د کمزورتیا سبب کېږي او د اورېدو پر قوې هم ناوړه اغېز کوي، د غږ ککړتیا رامنځته کوي او اعصاب تر اغېزې لاندې نیسي. د ماشومانو لپاره باید د ټلوېزیون پروګرامونه مشخص شي چې هغوی هر ډول پروګرامونه ونه ګوري؛ ځکه چې دا د ماشوم په روزنه کې هم ناوړه او منفي اغېز پرېباسي.

## د اړیکو نوښتګر اوسئ!



مشري له ښو اړیکو سره تار لري. رښتیني رهبران او مشران له خپلو خلکو سره ښې اړیکې لري. دا کار د دې لامل کېږي چې مقابل لوری هم له دوی سره غوره اړیکې رامنځته کړي او د ټولنې د هر قشر سره د تعامل وړتیا پیدا کړي. په الوتکه کې ناست وم او د هانګ کانګ ښخه د خپل هېواد پر لور راتلم. د الوتکې یو مهربانه کارکوونکې او خدمت ګار هڅه کوله چې له مسافرو سره ښه چلن وکړي او ښې اړیکې ټینګې کړي. د مسافرو نومونه یې زده کول او له هر یوه سره یې په ورین تندي چلند کاوه. له ما یې پوښتنه وکړه؛ خوړو ته اړتیا لرئ؟ ما ویل، نه!
( زه کوښښ کوم چې د سفر پر مهال ډېر خواړه ونه خورم.) ځواب یې ډېر حیرانوونکی و او ویل یې: «فکر کوم چې موړ یې او له خپل له مړښت خوند اخلې.» هغه زه وخندولم، خبره او څېره مې یې اوس هم په یاده ده.
نو تل هغه لارې ولټوئ چې د ښو اړیکو د ټینګېدو لامل کېږي، له خپلو ملګرو سره، له هغه کسانو سره چې مینه ورسره لرئ، له هغه چا سره چې ژوند ورسره کوئ او له هغه ناپېژانده کسانو سره چې سفر ورسره کوئ. دا هر څه د ژوند په نوم یادېږي.
په دې سره نه یوازې د خپل کسب له پرمختګ سره مرسته کوئ، بلکې په یو خوښ او نېکمرغه انسان بدلېږئ.